

# ميشا

Anwar Ibrahim

Jeevaraj Kannoth

Let's Read

The Asia Foundation



میشا د هغې په کورنۍ کې ترټولو
کوچنۍ ماشومه ده. میشا هره ورځ
د کورنۍ هر غړي سره ګوري. نن
ورځ هم د نورو ورځوپه شان هیڅ
توپیر نلري! هغه روانه ده!.



لومړی ، هغه خپل نیکه ته لاړه.
نیکه یې ټوخیدو نو ځکه یې خپله
خوله پټه پیچلې وه. میشا هم
غوښتل چې خپله خوله پټه او
وپیچي. ' قدرمنې لمسۍ مې ! کله
چې ټوخیږي، نوته هم باید خپله
خوله پټه کړي. دهغې نیکه ورته
وویل..



وروسته، میشا خپلې انا ته لاړه. انا
يې خپل لاسونه د صابون سره
مينځل. میشا هم غوښتل خپل
لاسونه ومينځي. 'قدرمنې لمسۍ مې
! ته هم باید خپل لاسونه د صابون
سره هر وخت ومينځي. داسې لکه
زه چې يې مينځم ! " د هغې انا
ورته وويل.



بیا میشا خپل پلار ته لاړه. پلار یې د
دیټول سره ځمکه پاکوله ترڅو کور
پاک وساتي. میشا هم غوښتل چې
کور پاک کړي. "ګرانې لور مې ! ته
هم باید د خپلې لوبې ساحه زما په
مرسته پاکه کړي. " د هغې پلار ورته
وویل!



وریسې ، میشا خپلې مور ته لاړه.
مورېې د کور نه بهر ته د وتلو لپاره
چمتو وه او ماسک یې اغوستی و.
میشا هم غوښتل چې ماسک
واغوندي. ما دا ماسک ځکه
اغوستی ده چې زموږ په هیواد کې
ویروس خپریږي. ګرانې لور مې !
کله چې د باندي وځې، ته هم باید
ماسک واغوندي ، "د هغې مور ورته
وویل".



بیا ، میشا خپل مشر ورور ته لاړه.
ورور خپل تلیفون په ټوکر پاک کړ.
میشا هم تلیفون پاکول غوښتل.
"ګرانې کوچنۍ خورې! ته هم باید
د خپل د لوبو شیان پاک کړي".د
هغې مشر ورور ورته وویل.



بیا ، میشا خپلې مشرې خور ته لاړه.
میشا د رسیدو سره سم د هغې مخ
ته لاس وروړ. " ګرانې کوچنۍ
خورمې! د دې لپاره چې د خپلو
لاسونو څخه بدن ته د مکروبونو او
ویروسونو د ننوتلو څخه مخنیوي
وکړو، ته هم باید د خپل مخ ،
سترګو ، خولې او پوزې ته د لاس
وروړلو څخه ډډه وکړي. " د هغې
مشرې خور وویل.



بیا ، میشا خپل دوهم مشر ورور ته لاړه. هغه خپل ستونی پاکولو او او تشناب ته د ننوتلو لپاره روان وتو کړي او خوله ومینځي. میشا هم غوښتل چې تشناب ته دننه شي او خوله ومینځي. " ګرانې کوچنۍ خورمې! ته هم باید تشناب ته لاړه شي او وتوکي. د کور نه بهر یا په سړکونو کې هیڅکله و نه توکي"د هغې ورور ورته وویل.



وروسته ، میشا خپلې دوهمې مشرې
خور ته لاړه. هغه خپل لمونځ بشپړ
کړی و او دعا یې کوله. میشا هم
غوښتل چې لمونځ وکړي. " ګرانې
کوچنۍ خورمې! ته هم باید دعا
وکړي زموږ د ښې روغتیا لپاره ،
خدای مهربان دي. دهغې خور ورته
وویل.



میشا وویل ، هرڅوک چې هر څه
کوي زه به هم همداسې وکړم. او
بیا هغې د هغه څه په اړه چې هرچا
کول فکر کول پیل کړ.



د هغې دوهم لوی خور څه کول؟ د
هغې دوهم مشر ورور څه کول؟ د
هغې مشرې خور څه کول؟ د هغې
مشر ورور څه کول؟ د هغې مور څه
کول؟ د هغې پلار څه کول؟ د هغې
څه انا کول؟ د هغې نیکه څه کول؟



زه به هم دا ټول به کارونه د
ناروغيو څخه د خوندي پاتې کيدو
لپاره وکړم ، ميشا د خپل ځان سره
پريکړه وکړه



کله چې تاسو د کتاب لوستل بشپړ کړ
، نو لاندې پوښتنو ته د ځواب
ورکولو هڅه وکړئ.

آیا وه؟ څوک کې کورنۍ په میشا ۱
یا ده خور مشره ترټولو هغه
ده؟ خور کوچنۍ ترټولو

څو کې کورنۍ په ګډون په میشا د ۲
غړي نهه یا غړي اته آیا دي؟ غړي
دي؟

؟ دي غړي نارینه څو کې کورنۍ په ۳
؟ دي نارینه پنځه یا نارینه څلور

غړي ښځینه څو کې کورنۍ په ۴
ښځینه پنځه یا ښځینه څلور آیا دي؟

دي؟ غړي

که وه مور میشا د پاکولو؟ کور چا ۵
پلار؟

چمتو لپاره وتلو د څخه کور د ځوک ۶
د ۷ پلار؟ که وه مور میشا د و؟
میشا چې څخه کارونو ټولو
کوم ، کړي ترسره چې غوښتل
تر چې دي خوښ ډیر ستا فعالیت
کړي؟ یې سره



Brought to you by

The Asia Foundation

Let's Read! is an initiative of The Asia Foundation's Books for Asia program that fosters young readers in Asia. booksforasia.org

To read more books like this and get further information about this book, visit letsreadasia.org

Original Story
ރިލާށ, author: Anwar Ibrahim. illustrator: by Jeevaraj Kannoth. Released under CC BY-NC 4.0.

This work is a modified version of the original story. © The Asia Foundation, 2020. Some rights reserved. Released under CC BY-NC 4.0.

For full terms of use and attribution, http://creativecommons.org/licenses/by-nc/4.0/

Contributing translators: Zohra Rafiq